استاد محمد ظریف "امین یار" ۲۰۱۵/۰۸/۲۹

# علومي خپل سیاسي شخصیت انتحار کړ !

سیاست کې د قدرت او د سیاسی رفتار ثبات تر ننړخ انډول ساتل تر ټولو مشکل مسله ده. په معاصره سیاستونو کې سیاستوال باید د یو اړخه د برخورد ، رویې او وختني لیدلوري ثبات حفظ کړي نود بلې خوا باید مناسب سیاسی قدرت او حکومتي موقف هم ترلاسه کړي. سیاستوال باید داسي سیاسي دریځونه اختیار کړي چې هم ثبات او هم قدرت ورته په برخه کړي. په نړئ کې ډیر داسي سیاسیون تیر شوي یا شتون لري چې دغه انډول باندې یې کافي مکث او تمرکز نه ده کړي ، د انډول موازنه ترینه خطاوتي ده او د همدغه موضوع پر بنسټ په سیاسی لوبو کې شکست سره مواجه شوي دي. مډرن سیاست لړ آدیالوژیک (Ideological) او خورا ډیر وضعی او رفتاري تعریف شوئ ده. په ننئ سیاست کې هغه څوک بریالئ سیاستوال دئ چې وضعیت سره سم د مشري رفتارونو په نظر کی نیولو سره د ګټې او ضرر تحلیل څخه وروسته دقیق او معقولو پریکړو وکړي یا دریځونه اختیار کړي او په دې اساس خپل سیاسي موقف وساتي یا سیاسي موقف او موخو ته لاسرسی پیدا کړي.

د افغانستان معاصر تاریخ کې دواړه ډوله سیاسیون شتون لري. ډیر آیدیالوژیک لکه د خلق ډموکراتیک ګوند مشر نور محمد تره کئ، د ثور د کودتا قوماندان حفیظ الله امین، د افغانستان د خپلواکئ بیا لاسته راوړنکئ غازی امان الله خان ،د طالبانو د تحریک او رژیم مشرملا محمد عمر او د حزب اسلامی مشر ګلبدین حکمتیار هم تیری شوي. او ډیر وضعی او رفتاري سیاستوال لکه د کمونیستانو د خاد او بیا وروسته د حکومت مشرډاکتر نجیب الله،د اجنتی نظام مشر ببرک کارمل، د جهاد او داخلي جګړو مشران احمد شاه مسعود، ربانی ، عبدرب رسول سیاف او مزاری،د اوسني ډموکراتیک حکومت بنسټګر حامد کرزئ او د نړئ دوهم متفکر د افغانستان د ملي یووالي حکومت ولسمشر ډاکټر اشرف غنی؛ تیرشوي یا اوس هم شتون لري. خو که تاریخ ته یوه کره کتنه وکړو دا به په ډاګه شي چې سیاست بازانو تل وختي ګټو ته لومړیتوب ورکړئ او خپل سیاسي شخصیتونه یې د موقف او قدرت لپاره خرڅ کړي.دغه وضعیت ته موږ په سیاست کې د سیاسی شخصیت انتحار هم وویلئ شو. د سیاسی شخصیت انتحار عبارت له هغه سیاسي دریځ، حرکت، رفتار ، رویه،سلوک، اسلوب یا برخورد څخه ده چې د یو سیاستوال بشپړ سیاسي شخصیت صفر سره ضرب کړي او د راتلونکي لپاره ورته د سیاسي پرمختګ دروازې د ابد لپاره بندې شي.

د افغانستان په کمکي سیاست بازانو کې نور الحق علومی هم یو سیاست باز ګڼل کیږي. علومي هغه سیاست باز دی چې تل د قدرت لپاره د ټولني اصالت یې د خپل فردي اصالت لپاره قرباني کړئ دئ. د ملت ګټې یې تل د قدرت په لوبې کې بایللي او خپل سیاسي شخصیت یې تل بدنامئ او ملي ګواښ سره مخامخ کړئ. علومي د هغه کم اصل افغانانو په لیست کېده چې خپل هویت او ملي منافع یې د قدرت او مادي ګټو لپاره بهرنیانو او دنني وطن خرڅوونکو باندې خرڅې کړي دي.زما په آند علومي د شاه شجاع او د سقاو زوئ څخه هم لوئ غدار او خاین دئ ځکه چې هغو خو په کلکه د افغانستان ملي منافعو په خلاف خپل دریځونه په ښکاره توګه مطرح کول، اما علومي د ملت د خدمتګار په جامه کې د ملت لپاره د نستوړي مار جوړ شوئ ده.

که د علومي سیاسي ژوند ته کتنه وکړو نو ژر به استنباط شي چې ښاغلي تل د قدرت لپاره خپل ټول ارزښتونه لیلام کړي دي. پام ولرئ چې دا وضعی سیاستوال نه دئ دا نا اهل سیاست باز دئ. توپیر یې دومره دئ چې وروستنئ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

قشر يعنی سياست بازان هيڅ ارزښت باندې هم نه دي ولاړ يعني د ارزښتونو ليلامونکي دي. د دغه موضوع د استنباط لپاره دا اړينه بولم چې د ډاکټر نجيب الله سره د علومي غداري او سياسی نمک حرامي ته اشاره وکړم. نن کره معلومات موجود دي او اکثره تاريخ ليکونکي اوسياسي پوهان په دې باور لري چې د ډاکټر نجيب د رژيم سقوط دو ستر لاملونه د علومي او دوستم غداري وه.

کله چې ډاکتر نجيب ته حکومت انتقال شو شوري اتحاد کابو شکست سره مخامخ وو او په اصل کې ډاکتر نجيب ته حکومت ورکول د شوروي اتحاد د ډاکتر نجيب په خلاف يو برياليځ سياسي مانور(Political Maneuver) وو. هغه وخت ډاکتر نجيب په سياسي وضعيت باندې سم پوه نشو او د قدرت په نشه کې يې سياسي تير وتنه وکړه.کله چې ډاکتر نجيب د شوري اتحاد د ناسالمې ارادي څخه په بشپړ ډول آګاه شو نوهغه بيا پوه شو چې په تيرو کلونو کې د شوروي اتحاد لخوا د شوروي اتحاد د ګټو د تحقق لپاره کارول شوئ ده او د هغه سياسي شخصيت د عامو خلکو په ذهنيت کې خورا تخريب شوئ. پدې اساس هغه کوښښ وکړو چې خپل حکومت ته دوام ورکړي او د همدغه ارادې په اساس ملي مصالحه يې اعلان کړه(ګرچه وويل کيږي دغه مصالحې که هم د شوروي اتحاد لاس وو)  او د شوروي اتحاد د اتکا څخه د خپل حکومت د خلاصون هڅې يې پيل کړې.اما شوروي اتحاد د سياسي مجبوريت له کبله په دغه وخت کې خپلې سياسی ستراتيژی ته ۳۶۰ درجه توپير ورکوي. شوروي اتحاد شمالي جهادي قوماندانانو سره د سياسي خبرو لړئ پيل کوي او د ګډې همکارئ تړون ته هم رسيږي. په دغه اساس وخت کې دوستم او علومي د ډاکټر نجيب د رژيم سقوط لپاره جمعيت او شمالی جهادي ډلو سره چې د شوروي اتحاد د ارادې سره سم حرکت کوي؛ يوځای کيږي. په هغه وخت کې هم علومي داسې فکر کوو چې دئ به په جهادي حکومت کې سياسي پايداره دنده ترلاسه کړي نو ځکه ډاکتر نجيب يې په شمالي جهاديانو باندې خرڅ کړو. شمالی جهاديان پرچميانو سره په توافق کابل ته راننوتل اما حکمتيار د شمالي جهاديانو دغه سياسي تړون اوجهاد خرڅونې باندې اعتراض وکړ. او استدلال يې کوو چې زموږ جهاد شوروي اتحاد او د هغو هم فکرانو سره وو نو اوس ولي بايد موږ د پرچميانو په اوږه کابل کې د خپل سپيڅلي جهاد برياليتوب هغو سره يوځائ ولمانځو! دا وويل اړين دي چې دقرت په سر د وروستنيو دنني جګړو يو ستر لامل د شمالي جهادي ډلو افغان جهاد سره غداری وه.

اوس چې علومي د بريښنايي پيژند پاڼو په هکله غير اسلامی او غير ملی دريځ اعلان کړئ، د تعجب وړ نه ده. ځکه چې علومي هيڅکله هم ارزښتونو ته لومړيتوب نه دئ ورکړئ.نه پرون نه نن او نه به سبا ! اصلاً علومي د ارزښت پالني ټولې حجرې يې خپل وجود کې انتحار کړيدي او هرڅه ورته مادي او قدرتي ګټو کې ترلي ښکاري. . علومي استدلال کوي چې تذکرو کې د افغانستان د حکومت نوم پورته ليکل شوي دئ نو د افغان کليمه ليکلو ته اړتيا نشته.اما زه ورته وايم چې ته ماته په ټولې نړئ کې د افغانسان په شان يو هيواد وښايه چې ملي تذکرو کې يې ملت معلوم نه وي ! بله خبره داده چې نورو ملتونو کې د ملت موضوع حله ده. د بيلګې په توګه هندوستان کې ټول خلک ځانونو ته انډين (Indian)خطاب کوي،سره له دې چې زرګونه مليتونه پکې شتون لري. هم مسلمان هم عيسوی او هم هندو او په همدې ترتيب هم پنجابئ هم ګجراتی او هم بيهاري وغيره ټول ځانونو ته انډين وايی او پرې فخر کوي. د دغه برهان په اساس که د  هندوستان خلک خپلې تذکرو کې د ملت مشخصه هم ونه ليکي کومه ستونزه به نه وي. اما په افغانستان کې تر اوسه هم د ځينو ملي خاينينو او بهرني ګوډاګيانو له کبله د افغان کليمې سره حساسيتونه پارول کيږي او د نفاق اور ته پوکئ ورکول کيږي. علومی او داسې نور لاسپوڅي پدې ښه پوهيږي چې د افغان کليمه مليتی کليمه نه ده بلکې دا ملتی کلمه ده اما بيا هم د خپلو تمويلي سرچينو د هدايت سره سم افغانستان سره خيانت باندې بوخت دي. همدغه راز اسلام زموږ دين او شناخت دئ او بايد په پيژند پاڼو کې ظاهر شي ترڅو په دې پوه شو چې څوک مسلمان او څوک غير مسلمانان دي.هغه خلک چې افغان کليمې سره حساسيت لري سل په سلو کې ملي خاينين دي او د افغانستان ملي يووالي لپاره وايرسونو په څېر مضر دي. دا ځيني بيا داسې مثال ورکوي: وايی چې څه مطنقي اړتيا موجوده ده چې مثلاْ پرته له دې چې ټول پوهيږي دا موټر دئ په پليت باندې وليکو چې "دا موټر دئ". زه هغو لاسپوڅو ته داسې وايم: سره له دې چې ټول پوهيږي چې دا موټر دئ اړتيا شته چې ځانګړتياوې يې وليکل شي. سمه ده چې دا موټر ده اما دا بايد معلوم شی چې دا موټر د کومې کمپنی او کوم ډول دئ ځکه په نړئ کې خو زرګونه کمپنئ د موټر توليدات لري. نو خلاصه دا چې هغه ټول خلک چې د افغان کليمه په خلاف استدلال کوي يا ښکاره مخالفت کوي د افغانستان لپاره ملي وايرسونه دي. تر څو چې افغانستان د دغه لاسپوڅي او د نستوړي مارانو موضوع حله نکړي ملي اجماع او ملي يووالي به تل د ګواښ لاندې راځي.

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ

خلاصه دا  چې علومي یو ځل بیا خپل سیاست بازي څرګنده کړه او وروسته له کلونو بیا هم هماغه خپل کم اصل او مادي خاصیت او د ملت ضد دریځ یې وښوده. علومي په دغه دریځ سره یې خپل بشپړ راتلونکي او حاضر سیاسي شخصیت انتحاري کړو او ملت سره یې یو ځل بیا لویه جفا او نمک حرامي وکړه. خو دومره به زه عرض کړم چې اسلام او افغان زموږ پیژنګلوي ده او هیڅ بنی بشر ته به دا فرصت او اجازه ورنکړو چې زموږ اسلامی او ملی ارزښتونو باندې یوه سانتي هم تیروتنه وکړي. نه افغانستان او نه د افغانستان تاریخ او ارزښتونه د علومي شخصي لاسته لاوړني دي او نه هم موږ یې د املوکو په تول لکه علومی د لیلامولو عادت او خاصیت لرو.زموږ لپاره زموږ ملي ګټي، د هیواد ځمکني بشپړ سیاسي او جغرافیایی حاکمیت ، اسلامی او ملي ارزښتونه د قرمزخط دي. چې د وطن او اسلامی او ملي ګټو لپاره د هرڅه نه تیر یو نو د ملی یووالی حکومت چې د شګو حکومت په شان ښکاري که ژر تر ژره اسلام او افغان په تذکرو کې ځائ نکړي نو خپل د سقوط معکوسه شمیرنه د پیل کړي. ډاکتر غنی په دې باندې ښه پوهیږي چې د افغان کلیمه ملیتی نه بلکې ملتی ده نو باید خپل اسلامی او ملي وجیبه او رسالت ادعا کړي او خپل درآیت او مهارت وښایی که نه نو راتلونکی کې به نادمه وي. په اخر کې د تره کئ  یوه ډیره معقوله خبره اقتباس کووم چې داسې وویلی وو : "د خلکو زور د خدای زود."

تل د وي ګران، لوي او سرلوړئ افغانستان
استاد محمد ظریف امین یار
کابل
۱۳۹۴ کال د وږي څلورمه نیټه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ